# اعلان

ګرانو او قدرمنو   لوستونکو پښتو ډاټ نیټ د دې کتاب سره ډیره
خواري کړې ده او په ډیر عاجزانه طور ئې تاسو ته دَ مطالعې په
غرض ډالۍ کوی  د دې کتاب بې اجازت نقل کول ، چاپ کول یا
زمونږ نسبت ترې لرې کول نه صرف دا چې اخلاقی جرم دے بلکې
ډیر سخت منع دی

پښتونستان
پښتو ډاټ نیټ


Distribution ,posting or copying  is strictly prohibited
without written permission of Pukhto.Net

**Pukhto.Net**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دار او دلدار



(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول حقوق په حق د مصنف محفوظ دي


د کتاب نوم ــــــــ دار او دلدار

د لیکوال نوم ــــــــ اجمل منصور

کتابت ــــــــ محمد رسول پښتو اکېډمي

سرپانه ــــــــ ذوالفقار علي بهټو (پرنسپل) د ګورنمنټ کالج سوات

شمېر ــــــــ پنځه سوه

د چاپ کال ــــــــ نولس سوه اته نوي

قیمت ــــــــ ۳۰، روپۍ

خرونکي

کالج بک ډپو تورګه (صوابي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# منته

لیاقت تصور، صادق حسین صادق، امان الله راهي، شعیب ساګر۔ جهان زیب سهیل - آصف خان خلیل، محمد اشفاق اشفاق، عباس هوتي، مامون رشید رشید، پروفیسر عارف خټک او ابن یار یوسفزے۔ دا هغه ښاغلي دي چې زهٔ ئې دې کتاب چاپ کولو ته او پارولم زما حوصله ئې یو په دوه کړه۔

عطاءالرحمٰن زهیر۔ ابن یار یوسفزے

ذوالفقار علي دوسهره او سید افضال شاه (سادات گرافکس لاهور) چې زما د دې کتاب سرپاڼه ئې هم جوړه کړې ده دې ښاغلو ما سره په دې کتاب کښې هر قسم مرسته کړې ده۔

ګران مشر نورالبشر نوید او ښاغلي همېش خلیل دي دواړو زما په دې کتاب څوکو بنې لیکلي دي- زهٔ د دې پوره ته ذکر شوؤ ملګرو او مشرانو سره د

سید قیوم۔ افتخار احمد (کالج بک ډپو توپی)

د ټولو غړو هم ډېره، ډېره مننه کوم چې زما حوصلې ئې اوچتې کړې۔

اجمل منصور

شهیدان (توپچه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# منصور - دار او دلدار

د پښتو شاعرۍ کښې بعضې زاړهٔ اصطلاحات د نوؤ حالاتو او واقعاتو په حواله دومره په تکرار سره بیانیږي چې هر څوک د غه اصطلاحات یا واقعیات زاړهٔ دي خو د نوي دور شاعري په داسې انداز بیان بیان کړي چې لوستونکي له خوند ورکړي - په دغه کښې منصور او دار په پښتو شاعرۍ کښې د حالاتو د قدغنونو د نفي کولو له پاره په شدت سره بیانیږي -

زمونږ د نوي دور یو ماشوم شاعر اجمل منصور خو په مجموعي توګه د خپلې شاعرۍ علامت هم دار او دلدار ګرځولے دے۔ او د غني خان د خپلې دې خطاب سره چې ښځې انصاف کړے دے - اجمل له د منصور خطاب غني خان ورکړے دے - لکه چې هغه ورته ښځې د خپل دې شعر په آئینه کښې کتلي دي -

منصوره څه خو په دار او ختې
چې د آشنا راز دې څرو له یو ړهٔ

اجمل منصور په پښتو شاعرۍ کښې د دار او دلدار استعمال د علامت په طور کړے دے او د هغهٔ ټوله شاعري مجموعي طور په دغه خیال رنګینه ده - زهٔ ځاني طور د اجمل منصور د لږ عمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاعرۍ په حقله دا په دعوه سره وایم چې دا ماشوم د حالاتو جبر د وخت نه وړاندې ذهني او شعوري طور بالغ کړے دے چې هغه په دا سې ماشوم ژوند کښې دومره ژور فکر لري - حالانکې دا جمل منصور د عمر هلکان فقط د کرکټ یا نورو لوبو شوق لري خو دا ښاغلے د پښتو او پښتون وظیفه کوي یو وېښ احساس رسا نظر او پښتون شعور لري - زهٔ د دهٔ شاعرۍ ته الهام وایم ځکه چې په دا سې عمر کښې دا سې آمد ته نور څهٔ ویلے شي ؟ زهٔ د روایت مطابق د هغهٔ شاعرۍ ته دعا نهٔ کوم د هغهٔ ژوند ته دُعا کویم چې خدائے ورله ژوند ورکړي نو دا برخهٔ به رودیکي -

نورالبشر نوید

افغان کالونۍ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# "ذوالجلال"

قبلو نکے د هر سوال دے ذوالجلال
بل څوک نهٔ دي ذوالجلال دے ذوالجلال

نهٔ د چانه دے پیدا نهٔ ترې پیدا دي
نهٔ بدلیږي په یو حال دے ذوالجلال
نهٔ په چا باندې ئې کار نهٔ ئې غرض شته
نهٔ سجدو ته مو لیوال دے ذوالجلال
هغه خلق په ژوندوني جنتیان دي
چې د چانه هم خوشحال دے ذوالجلال

د منصور د دار په سر به دا اوازوي
سیال ئې نشته دے بې سیال دے ذوالجلال

ماښام مال

نیل چوپال

۱۲-۳-۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# "د نوي کال سحره"

په پښتنو کښې به غیرت، مینه او توان راولې
د رقیب خېلو په محلت کښې به خزان راولې

په ژبه گونگ دې شمه بل که د ربنه سوال اوکړمه
د نوي کال سحره ماله به جانان راولې

۹۲ - ۱۲ - ۳۱

ماځیګر مال

خپل چوپال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د مینې په محفل کېنې چې داخل شوم
ایله اوس په انسانانو کښې شامل شوم

دا چې مخې اول ماته په ولاړه ووَ
نن یې زهٔ د درکښې ولاړیمه سائل شوم

ستا د مینې نه به زهٔ څنګه لاس واخلم
ستا وفا وه چې د نیا سره واصل شوم

اوس د جانانه ګیله اوکړمه جانانه
زهٔ د خپل ارمان په خپله چې قاتل شوم

د منصور په یارانې د يې یقین اوشو
د دین په وخت دې جانه را نازل شوم

۹۲ - ۱ - ۳
پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظاهره که په غم باندې غمجن زماجانان دے
والله ډېر بې وفا او دروغژن زماجانان دے

پرون مُسکے مُسکے وو د رقیب په خوا کښې ناست وو
نن خوا، خوا ته مې کښېني جوړ د پردمن زماجانان دے

د وخت قافلو راشئ یو تپوس درته کوُمه
د ستاسو خېمه نتوب دے که خېمن زماجانان دے

خپل عقل پرې تمام کړم په مطلب یې پوهـ نه شم
د ستاسو نظریه کښې لا یې فن زماجانان دے

منصوره چې یې کله په غزل کښې نامه واخلم
په دې خبره مانه گیله من زماجانان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهٔ یار رضا شهٔ نهٔ زړهٔ صبرېږي
هر یو ارمان مې دلته قتلېږي

رولېدل دېر مې په میکده کښې
چې په لمن ئې مونځونه کېږي

دا کوم انصاف دے وه ساقي جانه
څوک ورته ګوري او څوک مستېږي

په دې کښې هم لا ملنګي وائي
زړګے کړه صبر چې هر څهٔ کېږي

زړګے مې روڅوي غمونه زور کړي
د نجیب مرګ چې ماته یادېږي

زما په خیالې جوړ لېونے شو
منصور یو ګوتې کښې ځانله ګوډېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ښکلی یار مې په نظر نهٔ راځي
دُنیا دې وا خله چې دلبر نهٔ راځي

ډېر صبر اومې کړو په صبر نهٔ شوه
روژه مې تېره کړه اختر نهٔ راځي

پرون وعده یې د ماځیګر کړې وه
تیرې خورې شوې ماځیګر نهٔ راځي

ساقي و بُل دا ته چې د ننه راشه
د مېخانې نه څوک بهر نهٔ راځي

په زړهٔ غمګین یم بې وصاله داسې
لکه چې شپې پسې سحر نهٔ راځي

د جانان غم لېونے کړمه منصوره
په ځان د دروغو مې باور نهٔ راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي جنتونه به بدل په شونډو
ملاکه خوله کښېنوه یوځل په شونډو

رشید[1] په څېر مجروح[2] په سترګو ليکي
هيڅ اوښه ئسکه تکل په شونډو
په تخيل کښې لېونتوب را وا خلي
کله څېرې رامې شي غزل په شونډو
غاصب مې څکه ګنهګار بولي
مانه دے پاتې شيش محل په شونډو
پرون ئې ماته وسپل څښل ګناه ده
نن ئې شراب څښله بېدل په شونډو
غونې زېګ شي په ما ور پېښ م
اجمل چې خوله بدم دا جمل په شونډو

1- مامون رشید رشید 2- مشتاق مجروح یوسفزے

(c) ketabton.com: The Digital Library

د منت د ساقي جام دے
مېخانې ته مې سلام دے

مونږ د ژوند په ژرنده دل يو
که ګور ګران دے خو ناکام دے
دا چې يو سل پسې ژاړو
دا پښتو ده دا اسلام دے
په ممبر باندې چې ناست دے
هم ساقي دے هم امام دے
دا چې لاس کښې ئې جام دې
بوډا شوے جوړ خيام دے
اريانه چوک کښې زوړند دے
په منصور هاغه الزام دے

يار مقطې نه مخکښې ووې
د پاګل منصور کلام دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښکلي په لټون کښې مې خیالات خواره واره شول
رول که لږ شان کم وو نو خواوس زیات خواره واره شول

جانانه ستا دولت، زما غربت او د عشق په لار کښې
شي ګرانه به که د غه تضادات خواره واره شول
وطنه وایه څنګه به مې له تا نه زړګی بېل شي
منکرې چې مې تمول په امارات خواره واره شول
ماوې یاره به یو، یو سوال کوم چې سبا شي
بیا چې په ما زغو کښې مې سوالات خواره واره شول
ما بڼ مې اباسین ته په سکو کښې دا سې وویل
تنها شوم چې تمول ښکلي په سوات خواره واره شول

جانان به ئې هم اوري هم به وائي په سرو شونډو
منصوره که نړې کښې دې ابیات خواره واره شول

پښته ۹۳-۳-۲۳

خپل چوپال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما نه چې ځان ستا په جمال کښې ورک شي
لکه د ستورې نور هلال کښې ورک شي

تسبې د لاسو نه چې اوغورځېږي
زاهد د مستو حورو خيال کښې ورک شي
زما زړګي څه لېونې غونډې دے
يار سره هم په قيل و قال کښې ورک شي
يار مې رقيب ته وئې پروا مه کوه
دا لېونے به پشکال کښې ورک شي
ستا د جلوې د ليدو تاب نه لري
کنه مشېن دې په وصال کښې ورک شي

د چا ځنګل ورېل کښې نه دوکېږي
منصور د غونډې زنې خال کښې ورک شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چا زلفې لوُ یول هم فنکاري ده
د چا شونډې ښکلول هم فنکاري ده

د حسینو ژړول هم فنکاړې ده
د حسینو خندول هم فنکاري ده
تش دا نه چې ارمان اووژني فنکار شي
دا خوبونه تښتول هم فنکاري ده

ګوانه دا ګورې د هر چا رېږده نهٔ دي
بلا زړونه دړدول هم فنکاري ده
یا رب بېګاه خندا کښې ووئیل منصوره
ستا په شان غزل لیکل هم فنکاري ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

رانه د کلي ما ځيګر پيا تې شو
هغه منګې هغه ګودر پيا تې شو

څنګه منزل ته زر ور ورسيږم
چې نيمه لاره کښې دلبر پيا تې شو
آخر پښتون يم ميلمه څنګه وشړم
د يار غم کور کښې د ځيګر پيا تې شو
اشنا زما د سره کوز نه کړلو
د عشق پېټې مې په سر پيا تې شو
هسې نه خلق پرې خبر شي سبا
ستا د کور خوا کښې مې څادر پيا تې شو

پياګل منصور په جانان هرڅه بائلهٔ
تش د لفظونو جادوګر پيا تې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ورتلو یم خو درا تلو نهٔ یمه
ځکه د یار چم ته د تلو نهٔ یمه

اختره پام کوره په ما رانهٔ شې
لا د اغیارو د سیالو نهٔ یمه

سترګو مې سترګو نه شراب څښلي دي
ساقي عادت دي د پیالو نهٔ یمه

څله مې سوري اوس په ګټو اولي
اوس دي د ذرهٔ نه د وتلو نهٔ یمه

منصوره ما باندې ازمېښت مهٔ کوه
ستا په شان دار ته د ختلو نهٔ یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بس که د وفا سندرې مه وایا
چپ شه بې وفا سندرې مه وایا

یو ځل مې د زړه نه او وباسلې دے
بس ته د اشنا سندرې مه وایا

دا مې سرمایه ده ددې سترې ژوند
څه وایې چې دا سندرې مه وایه

غلې شه ساه واخله په ټول کلي کښې
جوړه شوه غوغا سندرې مه وایا

خُله مې ماته به ژبه چاړې دښه ده
یادوې چې زما سندرې مه وایا

نن ګل مځي دا سې وې منصوره چې
تماکړه رسوا سندرې مه وایا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مانه زړګي د سترګو رپ کښې ورک شو
دا لېونے د سترګو رپ کښې ورک شو

زما د کلي ښکلا پاتې نهٔ شوه
ګودر منګے د سترګو رپ کښې ورک شو
چې زما بړبڼو سره رو نغښتلو
ستا مېخکے د سترګو رپ کښې ورک شو
بېګاه چې ما پرېنه خُله کېښوده
سُور اتڼګے د سترګو رپ کښې ورک شو
يار مې لا ګُل زلفو کښې اېښے نهٔ وو
چې پسرلے د سترګو رپ کښې ورک شو

چې ما منصور د ځانه خوب ګڼلو
هغه لالے د سترګو رپ کښې ورک شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شونډې دې مه چیچه غاښونو کښې پاګل به مې کړې
سپوږمۍ مې مخ پټ نکړې لاسونو کښې پاګل به مې کړې

کله ز غمېشم ستاخندا د رقیبانو سره
بیا راله مه راځه خوبونو کښې پاګل به مې کړې
راته په خط کښې دا غیارو ذکرخه له کوې
پردي وطن پردو ښارونو کښې پاګل به مې کړې
دومره عادت دې کړم جانانه چې کمې راونه کړې
په خپل ستم خپلو ظلمونو کښې پاګل به مې کړې
زړګیه صرف دې منم خودا زما واوره چې
ګلونه هېر نه کړې دردونو کښې پاګل به مې کړې

ساقي منصور یمه شراب غواړم خمار غواړمه
راته روبه ماچوؤ جامونو کښې پاګل به مې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نظم
# "ګل"

ته مې د زړګي ګل يې
ته مې د پښتګي ګل يې
مانه ورکېدې نه شې
ته د پسرلي ګل يې

ستا وُنه چنار چنار
ستا ژونډون خُمار خُمار
ستا خندا بهار بهار
زړهٔ زما بيمار بيمار

ته د ليونې ارمان
ته د ليونې ګل يې

څوک دې زلميتوب کوي
څوک مې ليونتوب کوي
زړهٔ په زلفوڅوب کوي
سترګې مُسکيتوب کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شونډې دې غوټۍ غوټۍ
یاره ګلابي ګُل ېي

سرې شونډې انارلرې
ګُل ورین رُخسار لرې
تور اوربل تارتار لرې
غاړې باندې هار لرې

ما منصور دوکه نهٔ کړې
وه ګله واقعي ګل ئې
ما نه ورکېږې نهٔ شي
ستهٔ د پسرلي ګل ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پچې مې په ښه نهٔ راځي
نوم بې په خُله نهٔ راځي

ما درته ووې کنه
مړه هغه نهٔ راځي
هغه معلوم دے ما ته
په نيمه شپه نهٔ راځي
مونږ ه قتل ساندې وايو
مونږ له تپه نهٔ راځي
ياره کهٔ هر څهٔ ووے
ماله غصه نهٔ راځي
پښنې به مې ماتې شي خو
ستا په کوڅه نهٔ راځي

منصوره ستا په وړاندې
خدا شکو ګيله نهٔ راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساه

چې دې وینم ویلې کېږم چې دې نه وینم سوزېږم
زه ترکومې په سوزېږم زه تر څو به ویلې کېږم

زه د ژوند او مرګ په داسې بریډ ولاړ یمه زړګیه
که ساه اخلمه قتلېږم، که ساه نه اخلمه مرکېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# "حسین جنت"

نن بۍ هر یو چوپال سوزي
نن بۍ هر بچے ژړېږي
هره پېغله بۍ سرتوره
د سر تاج به کټ غورځېږي
د مور پلار به مخ کښې یاره
زوے به سرو وینو لمبېږي
چې د کوره وتې نۀ وه
هغه پېغله سرتورېږي
پښتو ن ورک پښتون تالا شۀ
د نجیب سنګر ورانېږي
خدایه ولې، خدایه ولې
په مونږ دا ظلمونه کېږي
د دوزخ په سرو لمبو کښې
دا حسین جنت سوزېږي
هر ځائے چغې دي سورې دي
زما هر چوپال ورانېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ګُل د وطن شو خاوري

ګولۍ هاغسې چلېږي

زلمي سره ښار سره کښي

خپل وطن ته واده کېږي

نهٔ څو ډول شته نهٔ سُرنا شته

نهٔ زما پېغلې ګډېږي

د رقیب په ساز شو نو

پښتون هر ځای تالا کېږي

نو خدایه ولې، خدایه ولې

په موږ د ظلمونه کېږي

د دوزخ په سرو لمبو کښي

د حسین جنت سوزېږي

پېښور ۹۷ - ۳ - ۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

وختونو د ستم په لاس وهلي یو موږ دواړه
حسینو په دېړمن زړه ډېر ولي یو موږ دواړه

څه چا زموږ په غم د خوشحالۍ ټمبل وهلے
د څه چا په خفګان تل ژړېدلي یو موږ دواړه

رېبار زو ما د یار د کور چنه پرېښودې نه ده
رقیب که د جانان چم کښې ګنځلي یو موږ دواړه

زما څکښې جانان ته د جانان په څکښې ما ته
ګنځل مه کړه یو بل ته نازولي یو موږ دواړه

تش نوم مو یو شان نه دے په کردار کښې هم یوشان یو
منصوره یار له دربانډې ختلي یو موږ دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلقو شراب څښل تا توبې اوویستې
څکه ساقي د میکدې اوویستې

زه دې خبر نه کړم د والوتلې
څنګه په چل چلکینې دې پښنې اوویستې

شیخ چې د ترکو په محفل ورګډ شه
روګوره غاړې نه یې تسبې اوویستې

غربته روک شې دلاسه هغې
راته د لاسونه کړې اوویستې

تا به منصور غوندې په دار اوځړې
که دې جانان جانان نعرې اوویستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مابڼې

وه د کلام غیږه کښې لوے شوې یه
خوب وینم که ته وے چې مابڼې ته څو

جیب کښې یو پیسه درسره نشته دے
هسې تش په خوله وے چې مابڼې ته څو

زه درسره لاړ بانډې قدم نا خلم
څنګه ته لاځه وے چې مابڼې ته څو

څنګه دې یخنې نه کوکله شوے یې
بیا به راته نه وے چې مابڼې ته څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا وښېل چې په سینه کښې مې ګوګل دے
دا ګوګل نه قتل ګاه ده سُور مقتل دے

ته پرون سیرې کړېوان چې چم ته را غلے
چا وښېل چې ستا محبوب چا وې پاګل دے
پښې چې ستړې شوې نو زړه ته ئې وښېل چې
ستا منزل ته زړه لا نور څومره سزل دے
ستا ښائست نو ورځ تر ورځه سپوا کېږي
زما عشق خو د غربت په ژرنده دل دے
زلمیتوب ته د سرو شونډو ارمان پرېږده
دې ارمان مې ایله اوس اخستے پل دے
داسې کس سره په لار باندې روان یم
چې د حق غوښتنه کړه وائي غل دے
د غزل د پېرمخ تګ دعویدار څوک دي
د غزل ژوندون په چا باندې غزل دے
د منصور غونډې په دار څوک زورنه شول
دېخوا نه اوس د عشق قانون بدل دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

جبړ یم ساده یم کلیوال یم
ته د شیش محل زهٔ د چوپال یم

ټول ته پوښان ټول را ته پوښان دي
ستورے یم نمر یم هلال یم
اوسه پورې چل د وټو سنهٔ راځي
زړهٔ چې اخته کړے په جنجال یم
اوس مې ماتې اوسله پوهه شوم
یاره باکمال ئې بې کمال یم
پاڼې مې غېرت د تاریخ دړې کړې
نر یم پښتون یم ننګیال یم
سر بېر، ګړوان سرې پښې ابلې پښې
ستا مینه کښې داسې په بد حال یم

اوکړه ما منصور باندې زېښت ګله
ستا د یاره دار باندې خوشحال یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوے کال دې مبارک شه

اوس په تلو کښې دا غورځېږي
قدم اخلي ورتاوېږي!
د جانان وېښته سپينېږي
کال په کال چې بوډا کېږي
زه به خندا ورته وويم
نوے کال دې مبارک شه

د ګوښه ماشوماڼے
د بچي وسه د خوراڼے
چې دوديه پسي ژړېږي
چې يې خوله نه راتولېږي
زه به خندا ورته وويم
نوے کال دې مبارک شه

چې پالش پالش نعرې کړي
ماله زړه زړې زړې کړي
په مخ اوښکې يې بهېږي
د چا زړه يې نه خوږېږي
زه به خندا ورته وويم
نوے کال دې مبارک شه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نرۍ نرۍ چاچې ئي
د ورې ورې پايڅې ئي
د غنۍ نه چې د ښېن يي
په جامو کښې نه ځېږي

زه به خنګه ورته وويم
نوي کال دې مبارک شه

داچې ناست دې په بازار کښې
تولي خېږ په لويه لار کښې
څوک د ده په حال خبر يي
چې په ده به څه تېر يي

زه به خنګه ورته وويم
نوي کال دې مبارک شه

نوي کال چې راروان دے
دې کښې ما نه يار روان دے
يار چې ما نه جدا کيږي
ورپسې مې زړه خوږيږي

زه به خنګه ورته وويم
نوي کال دې مبارک شه

د منصور زړګے پاګل دے
د ما مينه کښې ګهائل دے
دم درود بېرې نه چليږي
بچې په يار پسې دردېږي

زه به خنګه ورته وويم
نوي کال دې مبارک شه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بچې مې زړګي ته راننوزدې جانان دے
په شانتې سپین د فالودې جانان دے

زړګیه بس که دومره مۀ خوبېږه
غبږ کښې د لبږې شان مودې جانان دے

چې دې د زړۀ درنځ طبیب نۀ شولو
زما په خیالې بې فائدې جانان دے

پرون یې ماته وئیل را به شمه
نن شوه معلومه بې وعدې جانان دے

منصوره داسې ساقي جانان ووئیل!
مُلا د نخوارې عقیدې جانان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

که مستي مې راوستلې شي بهار کېږي
د زړګي وېښې به اوښولم ګلزار کېږي

ستمګره يارهٔ کله به لا درومې!
تور د سترګو مې سپينېږي انتظار کېږي

شهزادګۍ د شپېره غوندې په ما خبر کړې
د يوسف پشان به حال شوم کړمار کېږي

که زمونږ کلي کېږي داسې محل نشته
چا سپیاکې دي تېلې ستاسو نبار کېږي

ما ته يو دې لېونے يمه منصور يم
فرق نهٔ کوم په دار او په دلدار کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چپ به شم زړګیه اوس به څه وایم
چاچاته حالونه به د زړهٔ وایم

بیا جوړې رقیبو لمسولے دے
یار باندې مې بد سکي که ښه وایم

زهٔ چې ستا غمونو لارکښې پرېښودم
اوس به کُله چاته پښتانهٔ وایم

سرې وینې روانې مې د زړې شي
چاته چې داستان د بېلتانهٔ وایم

څوک چې پردې زړه کښې خبرې کړي
زهٔ منصور هغو خلقوته مرهٔ وایم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښتا یه رولیکم رنګین غوندې غزل سپر لیه
زمونږ په سیمه باندې بیا راشه یو ځل سپر لیه

ستا په ورتګ باندې محفل چې سپېره شوے وُ ټول
راشه رونبانه که نن بیا هغه محفل سپرلیه

که وي ساقي، که جام، جانان وي بې لتا سپرلیه
والله چې نهٔ کوي قرار پکښې ګوګل سپر لیه

په کوم محل کمو مانړو کښې چې ستا هُوانهٔ لګي
خاورې دي شي هغه مانړۍ هغه محل سپرلیه

پرون ربابا د چې راله ستا د راتلو زیرے راکړو
لایم تر روسه په انتظار باندې رحمل سپرلیه

د آزادۍ په ورځ　　نېټه ۱۴-۸-۹۳　　سحر مال خېل چوپال

(c) ketabton.com: The Digital Library

هله پوهې به د رقيب په چل او ول شي
چې داخل زما جانانه په مقتل شي

تا ته هله به د بل احوال معلوم شي
چې سورې سورې د ننه په کوګل شي

اې صابره ته به څنګه صبر اوکړې
چې په ټوټو، ټوټو کښې يې د زړه غل شي

مُلا جانه تا ته هم به جنت هېر شي
که اوده چې ته د ښکلي په څنګل شي

ته اجمل پوره اجمل نه يې اجمله
ته اجمل به هله شې چې سم اجمل شې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهٔ منصور یمه زړهٔ ملال یمه د ترکو
هم په طمع د وصال یمه د ترکو

عاشق کښي به څوک کوم یو سوال وکړي
زهٔ سر سکے د هر سوال یمه د ترکو

دُنیاوي کار سانه نهٔ کېږي یارانو
چې ا نښتے په جنجال یمه د ترکو

بڅي په مخ یې د ویښتو خطونه راشي
ډېر خنده په دغي حال یمه د ترکو

دا چې ما اجمل د ځان په خوا کښي کښېنه
محلتے او کلیوال یمه د ترکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړګی غواړي لال خونې چې مړ وکښي اوسېدل
نور نه ګټېږي زمانه اباد وکښي اوسېدل

پرواڼه کړه زړګیه که د سختو پتا راغله
حسرت مې دے دیدار تورو کمڅو کې چې اوسېدل
روکېږه ملاجانه نور دې نه زورېږه وعظونه
د یار سره کوم به میکده کښې وسېدل
لږ ترس په ما اوکړه غنم رنګیه جانانه
ترڅو به زه کوم ستا په کوڅو کښې اوسېدل
مظلوم باندې چې ظلم ته غیرت وائي ملګرو
څم نور نه کوم د لته پښتنو کښې اوسېدل

منصوره لیونیه ځان په یار باندې قربان کړه
که غواړې د منصور په شان زړګوټي اوسېدل

یادګیرنه: دا غزل ما د ټي وي پروډیوسر مسعود شاه صیب
طرحه : اے عشقه زړه مې خوښ کړل په سرمو کښې اوسېدل په طرحه
لیکلے دو - نېټه ۱۹۹۴ء

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله کښېني دا سې بل چې ځان له يار کړم
ستانه نۀ شم صبر به لے ځان به خوار کړم

دا زما کم عقلتوب نۀ دے نور څۀ دي
بنګلے يار مې تل تېښ با سې زۀ اعتبار کړم
رنګ مې زېړ وي ښېښې مې رپي په بد حال يم
ستا په ورانډې ګل مخيه چې ګفتار کړم
چې يو ځل واۓ زما نامه وا نخلې
لېو نے يمه بيا هم دلدار دلدار کړم
پرون تۀ هم زما مل وې ماسره وې
فتوىٰ کړه نن دې ولې ګنهګار کړم

منصور دې باندې خوشحال يم تۀ کړم نۀ يې
چې نرى کښې دې د ښکلو توبه کار کړم !

خهٔ پیکه غونده کښې شپه ده
څو یار څوا کښې دے خوږه ده

ستا د زړهٔ نه به او نهٔ ځي
زما مینه پښتنه ده !!
ځم ورځم دیوې بلو ته
ستا فرقت کښې شوګیره ده
زما خُله کښې د یار نوم دے
رود شپنج پهٔ خُله توبه ده
زندګي زمونږه خهٔ ده
یو غزل دے یو ټپه ده

یار دې زړانهٔ کړلو ربه
د منصور دغه ګیله ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے زما زړۀ زما ځیګره څۀ شوې
زما د زړۀ نه ناخبره څۀ شوې

زۀ خو ژوندے یم ستا د مینې په نوم
د بیاکې مینې نه منکره څۀ شوې
په هغې لوبه ورځ به اورکښې سوزي
وه د مونځونو سوداګره څۀ شوې
صبا به هر ځائے کښې دا چغې آورم
اخر د لفظونو جادوګره څۀ شوې
ښته دے پېغلې نۀ منګې په ترخ کښې
زما د خوار کلي ګودره څۀ شوې

چې دې زما په زړګي لوبې کړلې
وائې منصور چې ستمګره څۀ شوې

میاشتنی ریکوال
پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهٔ به یا څهٔ کوم د روم و شام ښکلي
څوا کښې چې مې وي د بتګرام ښکلي

چې موټېره چا سره یاري نهٔ کړي
دا سې اموخته شول د اسلام ښکلي

ما سره کهٔ تا یاري پاللې وه
اوس به په دنیا نهٔ وو بدنام ښکلي

مونږ څو په کنځلو کښې هم نهٔ یاد یٔ
نور څو کوي هر چا ته سلام ښکلي

دا چې وعده او کړي بیا یې ماته کړي
دا منصوره دے زما د قام ښکلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# "زما ژوند"

---

زمانه نور زما د محبت پښتنه مه کړئ
پتنګ په شان مې سوزېدو کښې مې ژوندون دے

رقیبه که هر څه اوکړې صبرولے مې ترې نه شي
ددې کوڅو ملنګ یم دې کوڅو کښې مې ژوندون دے

زما د لېونتوب به درته څه اووېم جانانه
نه مړو کښې حسابېږم نه ژوندو کښې مې ژوندون دے

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهٔ یٔ شم چې ورکولے هغه شے غواړې
مانه مې زړګے د چا زړګے غواړې

اوس به ښهٔ په نره مزدورې کوُم
ګُل چې اوسېدو لـه کورکے غواړې
دا ستا په دولت ستا په محل نهٔ ده
مینه صفا زړهٔ صفا تندے غواړې
وینه د زړګي دې پرېښه اوشیندې
څوک چې په خپل کلي کښې سپړلے غواړې
څنګ به یارانه ورسره اوپالم
هر ماښام چې خوله کښې انګے غواړې
سل ځله مې اوباسهٔ د زړهٔ نه خو
نهٔ صبرېږي بیا هغه سړے غواړې

ژوندې ورلـه ټول خاورې ایرې کړلو
اوګوره منصور تـه بیا هغې غواړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په یارۍ کښې بلا زړونو لمبې واخستلې
د بلا خلقو ایمانونو لمبې واخستلې

ځان ته په کمه خوله مالیار وایي زهٔ بوے نهٔ شوم
چې دې ګلزار کښې سروګلونو لمبې واخستلې
تهٔ خپل محل خپلې ماڼۍ کښې ځنګ خوشحاله اوسې
زمونږ د خوارو ګرېوانونو لمبې واخستلې
په تاسو هیڅ نهٔ کړي اثر د نیاز بې درده خلقه
زما کابل کښې چوپالونو لمبې واخستلې
مخ په نقاب کښې پټوه ناترسه ظلم مهٔ کړه
ستا په لیدو نظرونو لمبې واخستلې
ستا د وصال په طمعه طمع په ما څهٔ ورنهٔ شول
په ژوبل زړهٔ کښې برخونو لمبې واخستلې
چرته به ناستې وي قیصې د درخانۍ به کوي
کولې به پرتې دي تنورونو لمبې واخستلې

عجیبه کار دے چې په تا هډو اثر نهٔ کوي
د منصور آه سره دارونو لمبې واخستلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځومره ساده توب کېنې دې هوښيار کړمه
ګله ! تا د ښکلو توبه ګار کړمه

راشه چې نن دا خبره سپينه کړو
زۀ به دې تر کمې انتظار کړمه
ما ته جوړ د پاسه پاګل نشته دے
قتل په غنم رنګو چې اعتبار کړمه
کمه بې رُخي ئې درته اوستايُم
کم، کم ستمونه به ئې شمار کړمه

ما ته ئې خپل ګناه په ګوته نۀ کړلو
زۀ منصور ئې چې ګناه په دار کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهے یم ما پرې کړے اعتماد دے
خبر نهٔ وم چې بلبل نهٔ دے صیاد دے

بې له تا نه سکه کور بغیر د مُوره
ستا په سرخوښې د زړهٔ چو پال آباد دے
زهٔ چې ستا کوځې ته راشم په قرار شي
ویر ژړلے زړهٔ مې هر ځائے کښې ناښاد دے
چې دا نهٔ وي پښتو څهٔ پښتانهٔ څهٔ کا
پښتنو کښې څو د کار شے اتحاد دے
هیڅ اثر پرې زما آه و فغان نهٔ کړي
زما مخکښې زما څپل اشنا شیدا د دے

وه رېباره نن پاکل منصورته وایه
ستا دلاسه مې ژوندون تباه برباد دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخر به شي په خپلو کړو پښېمانې قاتلانې
ترڅو به ارمان وژني قاتلانې، قاتلانې

نازونه قاتلان او ادا کانې قاتلانې
ژوند ے ارمان مې وژني خندا کانې قاتلانې

منت د رقت کوم کوډے له مانه لرې نۀ شي
زړګے مې خوښوي ستاسو پشانې قاتلانې

اثر په رېښته ګلابه زما آه فغان نۀ کړي
بوځي مې قتلګاه ته بې ايمانې قاتلانې

منصور د دار په سر چغې وهي او دا يې وائي
د دې نه سپوا نشته سزا کانې قاتلانې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نادان زړګي مي ستا دیدار غواړي
بیا سوزېږه په سُور انګار غواړي

مُلا صیب شایه دم درود روښایه
نیسل د تورو زلفو مار غواړي

سترګي یو څهٔ روزړګے یل څهٔ وائي
زړګے قرار سترګي خُمار غواړي

په غوښتو نه په رخستو به کېږي
څوک چي په خپل کور کښې اختیار غواړي

لږ ورته وګورئ رسۍ په غاړه
منصور د دار په سر دلدار غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دزړه په کور کښې مې لټولې ګله چرته کښې وې
مادخپل درد سندرګوټې ګله چرته کښې وې

ستا په سروایه ما دکوم ارمښت نه تپښته کړې
دنیا مې نه ته مې خپلولې ګله چرته کښې وې
تیکه بنګړي پانزیب مې وړ چوول وربل مې نخورشو
ماته راستولې وې همزولې ګله چرته کښې وې
قسم د مینې په پاکیزه مقدسه نامه
ماپه قدم، قدم یادولې ګله چرته کښې وې
زه ګپونې ووم د وفا په مطلب څه پوهیدم
جامې مې ستاکوڅه کښې شلولې ګله چرته کښې وې

منصوره پربین ده دیوې خبرې راکړه ځواب
چې په ما بې ځاودې امبارولې ګله چرته کښې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچې نه دې درځي خواله غټې سرې دے
خوار زړګیه جوړې ستا خوښ شوے دے" دے

د جانان مخ ګلستان بریتې ئې ازغي دي
د ګلاب په شان ئې یو یو اننګے دے

پښتون یاره د دې خبرې مه کړه
وخت په منډه رانه زغلي ګړندے دے

څه که عمر ئې اویا کلونه تېر شه
لا خو فکر د بزمي بابا زلمے دے

زما بدې شي او خواته مې کښېنې
دا منصور خو عجیبه شان لېونے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

سنګرو بس کړئ د وفا سندرې ښخله وائ
د لته د مېنې او ښکلا سندرې ښخله وائ

زهٔ خوږه ستړې یم یارانو په قلارمې پرېږدئ
ما ته د جام او د مېنا سندرې ښخله وائ

په داسې رنځ باندې اخته یم چې طبیب جانان دے
د درد، پرهر او مسیحا سندرې ښخله وائ

رندانو نوش کړئ سرې خوږ مازغه مې مهٔ خوږوئ
خُمار، خُمار یم د اشنا سندرې ښخله وائ

زما په ژوند چې منصور نوم په تاسو بنهٔ نهٔ لګید
زما په مرګ باندې زما سندرې ښخله وائ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غنم رنگے دے که تور دے او که سپین دے
ماته څړیو د یوسف پشان حسین دے

دا ژموږ د باغ غوټۍ په فریب وژني
د مالیار لباس کښې راغلے ګل چین دے
څه پروون خو باران لا ورو کښې کړې
اے رببار ه نن به راشي اسمان شین دے
خاورې ژوند کښې د مستۍ سند دې وایم
دا سبق راته ښودلے اباسین دے
ما پروون وئیل چې نوم به مې ترې هېر شي
لا تر اوسه ورته یاد دے یار زهین دے

د اشنا د خلې کنځل ته چرته رسي
که غزل د منصور څومره رنګین دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانان په سَترشو د کوره بهرنهٔ را وځي
کهٔ د رقیبو د پېغوره بهرنهٔ را وځي!

ستا اواز پېژني پېښېي د ملنګی مهٔ کوه
روک شه رقیبه سپکه سپوره بهرنهٔ را وځي
د ښار ماڼۍ د لوګو ډک بازار زمانه ښکي
هغه د ښار د لوګو شوره بهرنهٔ را وځي
زما مثال لکه د مرغي دے د یار مینه کښې
سرے په خپله د خپل کوره بهرنهٔ را وځي
دا یو ویشتمه صدۍ خهٔ کهٔ د وه ویشتمه راشي
خو پښتنه ګورے سرتوره بهرنهٔ را وځي

ساقي وئیل چي دا منصور راته پیاګل ښکاریږي
په رضا خهٔ کوي په زوره بهرنهٔ را وځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم مې ارمانونه ستا کاته وړني
هم مې ستا قاتلې سترګې زړه وړني

خدائے خبر په رویې بانډې چا څه اوکړل
کوره پښتنو ته پښتانه وړنې
تاچې مې یادونه زړه کښې ووژلې
کوم پښتون په کور میلمانه وړني
تاکه د زړه راز ووې په دار شولې
ما به هم د یار په طرف تله وړني
تاته ګناه نشته دې پروا مه کړه
ماڅو د خپل زړه دا خپل مازغه وړني

څه کنه هغه څو انا الحق ووې
ما څه کړي ما منصور په څه وړني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# "سمن"

د انور سید چراغ لور

خدای دې لویه کړه بلبلې
مور او پلار ته نازولې
د طارق په مینه مستې!
د بخښو د زړه غندلې!
د بابا په څنګ کښې ته هم
فرښتو نه ښځي ښکلې
کاش که ستا په شانتې گل هم
زما کور کښې اوسېدلے

اے روښې اے نازنینې!
اے سمن اے گل رنګینې
ته په خپله یې تکه سپینه
بیا جامې هم اچوه سپینې
د بابې د زړه قرار یې
د انور د بدن وینې
کاش که ستا په شانتې گل هم
زما کور کښې اوسېدلے

(c) ketabton.com: The Digital Library

بخښو تاته خوشحالېږي

چراغ ستا نه چاپېرېږي
ګلان ستا په خوا کښې خاندي
سپرلے ستا طرته ګرځېږي
اے سمن ډېر چا زړه کښې

بس دا یو حسرت وسېږي
کاش که ستا پښانتې ګل هم
زما کور کښې را وسېدلے
ته یو ګل یوه غوټۍ یې

یو حسینه لونګۍ یې

د حسینو نه حسینه

د رنګ کلي شهزادګۍ یې

ستا خندا سره سپرلے شي

څه عجیبه ښاپېرۍ یې
کاش که ستا پښانتې ګل هم
زما کور کښې را وسېدلے
اے زما د زړه ملګرې

اے سمن اے جادوګرې

ستا تصویر د مینې جوړ که

اے د مینې انځورګرې
ستا منصور په تا قربان شه

اے رو نبرې اے جادوګرې

کاش که ستا پښانتې ګل هم

زما کور کښې را وسېدلے

دي خوا ږه خوا ږه مې د قيصې خلق
څه رنګ دي لا ستا د ښارې خلق

تا چې مې ريښې ريښې کړ ګرېوان ګنډه
وو به تماشه ټول د محلې خلق
ته چې ما سره په خنګ کښې اودرېږې
يم حېران په څه اخلي لمبې خلق
يو رقيب خو نه دے چې به پوهے شي
څنګ به پوهوم دې د کوڅې خلق
يو ارمان ئې دوي له پوره نه کړلو
څله کړي خدايا تو ته سجدې خلق
دا راته د حورونه خوا ږه دي زيات
دا زما د کلي بې اسرې خلق

مرګ نه د منصور روستو به اوګوري
هر ځائے کښې ئے او ستائي نغې خلق

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت تېرېږي نه خپل کورکښې په ترخې خُلې
شي تمام جهان خوږ لے په خوږې خُلې

هر يو کس به ستا د ظلم مخ نيوے کړي
وه ظالمه ته به چا چاله تېرې خُلې
آه زړګيه تا رښتياوې زه پاګل وم
بې د سوکه نهٔ سمېږي دا کږې خُلې
د انصاف طمع به څنګه تربنه اوکړو
چا چې کړې زمونږ په وينو باندې سرې خُلې
زهٔ د لادو بادو پرېوتم زړهٔ ست دے
نهٔ هېرېږي مې سرې شونډې اوومې خُلې

چې ښائسته ګلاب مستي کړي زړهٔ کښې وايم
کاش چې ښکل يې کړم منصوره په دې خُلې خُلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

آزاد نظم

# "لږ شانتې صبر اوکړه"

نن تور کارغهٔ چې دېلئ د پاسه کان کان کول
نن چې ستړي مې خوږ لے د درشل د پاسه
ساتهٔ څهٔ پته وه جانانه چې به تهٔ را درومې
ما خو نهٔ سر دے کومنځ کړے نهٔ مې لاس وينځلي
زهٔ خو لا هاغسې د بوال باندې څوپيا کې تېم
خوږه جانانه د وفا په خاطر صبر اوکړه ! !
تهٔ ورشه کښېنه د چنار لاندې شپېلۍ غږوه
زهٔ به جامې اووينځم ځان له به لمځې اوکړمه
تهٔ په شپېلۍ کښې غږوه مې د ښائست سندرې

زهٔ به غويان پېئې ته بوځمه گيا به اوکړم
تهٔ را پسې روستو څوکه په لاس رامنډې وهه
په شنو وابنو کښې به اودهٔ شوغوان به موږ اوترو
تهٔ به شپېلۍ غږوې زهٔ به دې ستا ئم تېو کښې
څو
لږ شانتې صبر اوکړه دا سوپيا کې بره کېږ دم

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅ پوهه نهٔ شوم خوار نصيب دې راله څله راکړو
خوار خودي کړم ذهن اديب دې راله څله راکړو

چې دې مئېن کړم ستا مننه خو تپوس کوٌمه
په محبت کښې دا رقيب دې راله څله راکړو
بېګا د موڅه نه پس يو خان دُعا کښې دا سې وو چې
شاهي وطن کښې دا غريب دې راله څله راکړو
هم مې ارمان قتلوي هم مې پرهرونه چېړي
قاتل جانان، هوښيار طبيب دې راله څله راکړو
دلته شراب او څښم کهٔ واورم د خطيب خبر چې
خدايا يو ځائے شراب خطيب دې راله څله راکړو

مُلا کوي ناسته د رقيبو په توله کښې ربه
منصور حيران يمه حبيب دې راله څله راکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کهٔ ستا خوښ نهٔ یم ستا د غم خوښ یمه
بغېرلتا د ټول عالم خوښ یمه

ستا په سر هر چاله ښېګړه کوم
ځکه خو زهٔ دې د ټول چم خوښ یم

مانه بغېر په چا ستم نهٔ کوي
خو زهٔ ئې هم په دې ستم خوښ یمه

قسم دې کړي مانه نهٔ جار وځي
غُربته زهٔ دې جوړې سم خوښ یمه

پچې د رقیب په سر څهٔ وېلې نهٔ شم
منصوره ځکه د صنم خوښ یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

قتل ئې کړم خو قاتلانې نهٔ شوې
سترګې په خپلو کړو پښېمانې نهٔ شوې

چې د هغهٔ نه مې ځان اونغاړلو
ښپې برغنړو پله روانې نهٔ شوې
زړهٔ مې بوډا شهٔ نظر کار پرېښوده
مراوې د ښکلې اداګانې نهٔ شوې
ما هر قدم ستا د قدم پشان کړو
افسوس دے تهٔ زما پشانې نهٔ شوې
ژندګۍ څهٔ کوې ځوانې ختمه شوه
ختمې دې یاره سزاګانې نهٔ شوې

منصوره هسې دې ځان رو ښاسللو
د محبت لارې روښانې نهٔ شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبنسکې مې په مخ باندې راماتې شوې
ته چې د وفاداره کېښې پیاتې شوې

اوس به د مُلا دخوانه پاسمه
بیا د محبت سندرې زیاتې شوې

ماچې پېکښې خاورې په سرنوستې وې
من هغه کوخې زمانه پاتې شوې

نهٔ په ځلا کېږ لو نحو مجبوره شو
اوبنسکې چې اشناته ننواتې شوې

کړې منصور خبرې د رقیب دچم
ځکه یې حوصلې د زرهٔ میراتې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهٔ گنهګار یم ما ګناه کړې ده
چې مې ګل رنګ سره وفا کړې ده

زهٔ د هر چا په غم سلګۍ وهمه
هر چا زما په غم خندا کړې ده

ماته يې خبرې د ځوانۍ مرګ کړې دي
ما ورته تول عمر دُعا کړې ده

اوس راله سر باندې لاسونه راښکي
چا چې زموږ د سر سودا کړې ده

ځنګه په دار يې ځېړوي اوګنه
منصور خو هغه ګناه بيا کړې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړګی مې نهٔ لګي د بیاره اوس په دې کلي کښې
زړګی به څهٔ ولګي نشته دی زړګی کلي کښې

چې ستا د ښار په دروازو باندې نه شومه
ما نه شو پیاتې هغه شور هغه منګی کلي کښې
یار ته سلام نه پس د بیاره درسي ووایه چې
بغیر له تانه ایسار بېني نه سپرلي کلي کښې
ستا انتظار باندې به ژوندن ستا په کوڅه کښې تېر کړم
زمانه نهٔ دی پاتې هیڅ پوله پتې کلي کښې
صبا په لوی سفر روان یم مروره یاره
اوګنه دا مې اخري ماخیګری کلي کښې

زما یقین دی ځکه نهٔ درځم منصوره یاره
د یار غمونه به مې زدکړي لېونی کلي کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د سرو شونډو ارمان به مې پاګل کړي
ډېره زړده چې نادان به مې پاګل کړي

څکه نهٔ د رحم اشنا زما یقین دے
ستا د کلي ماشومان به مې پاګل کړي

زهٔ بے خندګه پوهوم نهٔ پوهېږي
دا ساده باده جانان به مې پاګل کړي

لږ په دهٔ باندې هم روښنه چې نشه شي
ساقي جانه ملاجان به مې پاګل کړي

خهٔ پاګل زړګي پاګل کړمه منصوره
خهٔ چې نخي د جهان به مې پاګل کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه شاعر یم د ښائستونو طلبګار یم
د سپرلي او سرو ګلونو طلبګار یم

زه په ځوانه ځوانۍ دل کړم د وخت ژرندې
خو زه اوس هم د جامونو طلبګار یم
د رقیب سره جنګونه مې یادېږي
ستا د مینې د جنګونو طلبګار یم
چې مدام را سره ستا په ځائې یو ځائې وي
ستا د یاد ستا د غمونو طلبګار یم
تورو زلفو دې ژوندون را له ایرې کړو
ستا د شونډو د سرونو طلبګار یم
ما رو تا چې پکښې یو وو که هغه وي
زه په ویښه د خوبونو طلبګار یم

پروا مه کوه رقیبه یو ځل نه دے
زه منصور یم د دارونو طلبګار یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکه ماشوم چې بښاریه کښې ورک شي
داسې مې زړهٔ ستا ننداره کښې ورک شي

چې د ګل مخې مخ ښته او ګـور مـه
زما درد و نـه په سینه کښې ورک شي
چې ستا د زلفو په ځنګل کښې ورک شم
سکه مبلمه چې توره شپه کښې ورک شي
مونږ ه چې او ځښو ا یسله خود کښې راشو
زاهد چې او ځښي میخانه کښې ورک شي
بیا ورسره تاله وفا نهٔ بناځي
زما رقیب چې ستا کو څه کښې ورک شي
د نوي دور دیار به څهٔ او وایم
راحت کښې راشي په غوبمه کښې ورک شي

دَ منصور یار به څو په زړهٔ کښې وي ستا
څلے چې زور شي مقبره کښې ورک شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورک نهٔ شي

ګل د دواړو سترګو تور، که چې ورک نهٔ شي
یا ئې ګل غوندې سمسور که چې ورک نهٔ شي

په صحرا باندې روان ئې د یار غم دې
یا سندره که یا شور که چې ورک نهٔ شي

وه رېباره دا زما دا شنا کور دے
ورته دوه سترګې خلور که چې ورک نهٔ شي

زړهٔ وې خبر کهٔ هر څهٔ ورک شول پروا نشته
د یار غم په اوښو سور که چې ورک نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دې د سپینې مینې تور وانخلي
زړهٔ به مې ستا په زړهٔ کښې کور وانخلي
پام کوه ستر کو له زور مهٔ ورکوه
د زړهٔ د نیا مې چرته زور وانخلي
ددهٔ په مړ وجود به څهٔ تېرېږي
چې یې قدم په څوا د ګور وانخلي
د لسته به څنګ غریب په خېټه موړ شي
چا نه روڅې چې قرض پور د وانخلي
د نوي دور بنسکلي به خپل دې کړي خو
ستا په سر هیچرې به تور وانخلي
بیا خو منصور نهٔ دے دروغ به وائي
ګل نه چې پیا منې خُله په زور وانخلي

په کوم خُله به ځان ته وائي منصور
چې ستا په مینه کښې پیغور وانخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یار سپینه خُله منه ده
زما مینه هم رښنه ده

د بوسې سوال مې ترې اوکړو
یا غږنه کړې یا کنه ده

ما به غرق ما به تباه کړې
چې عادت په چیښنه ده

یو ماښته ختې نهٔ شي
بل دې یو یو سړ پښه ده

ستا د زلفو د باد وړاندې
د منصور مینه بښنه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړهٔ په کور کښې يار ساتم خوږونے نهٔ ساتم
صفائے وو سېل چې نور په زړهٔ کښې دے نهٔ ساتم

بغېر د ياره چې په ما باندې د ځانه ګران دے
رقيبه زهٔ د زړهٔ په کور کښې بل سړے نهٔ ساتم

د جانان کوتو کوتو برېتو سره اونهٔ نخلي
د دې د يرې نه په پوزه مېچکے نهٔ ساتم

تا سره مينه کوم مينه درنه غواړم ګُله
د زړهٔ په دشته کښې د بغض بُرغلے نهٔ ساتم

ما د منصور نه چل زده کړے دے غرور نهٔ کوم
تندے مې روڼ وي چا ته وران ويجاړ تندے نهٔ ساتم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته زما په نوم شرمېږې زه خو ستا په نوم بدنام یم
داسې هېر به دې کړم ګله، څنګه تا ته چې ګمنام یم

زما ځان کښې د زړه سره دا عادت چې شانه خو ښه دے
چې د ښکلو صفت کېږي ورته ناست په احترام یم

ساقي نیست دې راته خراب دے که اوبو کښې نشه نشته
څنګ چې ومه په یو ځاځکي ساقي هاغسې په جام یم

ستا د مینې پر مخ تګ دے په مزه سره روان یم
هر قدم ټېکرې خورمه، غورځېدلے ګام په ګام یم

نه منصور خفه کومه نه جانان نه صبرېږے شم
سحر تا ته په سجده یم دا شنا چم کښې ما بنام یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلي مانه نه هېرېږي لا تر اوسه
په زړګي مي راوربېږي لا تر اوسه

ځواني ختمه پټ پټو نښې ختم نه شو
زما یار مانه پټېږي لا تر اوسه

پوره کال تر منځه تېر شو ځلا نه شو
خوا کښې غلي مې تېرېږي لا تر اوسه

محبت کښې وصال پښتنه مه کړه
ارمانونه مې قتلېږي لا تر اوسه

دے
یم حېران چې منصور روغ دے که پاګل
بې وفا پسې ژړېږي لا تر اوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

درد چې د چا ګوګل ته ونهٔ رسي
هغه به ستا وربل ته ونهٔ رسي

چې خپلې پښې ځان پسې خپله راښکې
چرې به خپل منزل ته ونهٔ رسي
رووایه ماله به خوب څنګه راشي
سر چې مې ستا څنګل ته ونهٔ رسي
هغه به څهٔ سروي کم عقله یاره
چې ستا په نوم مقتل ته ونهٔ رسي
شرط پرې کېږدو ښنا زما غزل چې
ستا دې خلې کنځل ته ونهٔ رسي

مر به شي ستا د محبت نکات چې
ستا لېونې اجمل ته ونهٔ رسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان به خپله د ايرو غونډې ايرې کړې
وه زړگيه چې د ښکلو تذکرې کړې

په آسمان باندې ورېځې راخورې شوې
که حسين په سپين جبين زلفې خورې کړې

ځکه روس د غنم رنگو نخوا کښې گوځم
د جهان ښکلو رشتې راسره پرې کړې

چې په ښکلو پسې گرځي ښکلي غواړي
لېونيه مابه زر، ذرې، ذرې کړې

مُلا وسيل شابې دا بل منصور په دار کړې
چې جماعت کښې مې صنم، صنم نعرې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# "هاغه زوړ اشنا دي یم"

څنګه روس مې پېژني
ښهٔ په غور راوګوره

هغه زوړ اشنا دي یم
موږ چې پټ پټ تونې کړو

تا نه چې ورک شوے وم
ما نه چې ورک شوے وې

روس دې خيال کښې راغلمه
ستا جوړې ياد ېږي نه

هاغه د روژو ما ښام!
موږ چې الله هو به وې
بره د حجرې په ګټ
موږ دوا ړه چې ناست به وو

څنګه روس څهٔ پوهٔ شوې
روس درته درياد شومه

پاسه را ترغاړه شه
وه مانه روک شوي يه

هاغه زوړ اشنا دي یم
هاغه زوړ اشنا دي یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قابل

---

چې د چا زړهٔ ورته زړګے نهٔ ښکاري
هغه سړے د سوزېدو قابل دے

چې هر يو ښکلي پسې ځے، ځے کېږي
زما زړګے د سوزېدو قابل دے

# اَنا الحق

---

يو ويشتمه که يُ که هم انا الحق ووي
په قسم چې به يُ جټ خلق په دار کړي

منصورؔ هاغه منصور نهٔ دے لېونيه
چې بے ستا غونده کښې جټ خلق په دار کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلیا شوم نه کړم سنګ ، مني روکنه
ما په خپل ځان پتنګ ، مني روکنه

بغیر له تانه ځنګه وه جانانه
د زړه محفل مې رنګ مني روکنه
چې ستا کوڅه پرې ګل وریته شوله
زما د ویني رنګ ، مني اوکنه
ما په دهلي هم باچاهي کړې ده
زما د توري شرنګ مني او کنه
چې راګوزار شوم یارخندا کړې ووې
ځنګه دستر ګو جنګ مني اوکه نه
چې پښتو کس مولار کښې ځنګ پرېښوده
زموږ پښتو او ننګ مني اوکه نه

دا خو مني چې زه منصور ملنګ یم
په ځان زما قلنګ مني اوکه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د وطن په نوم

وطنه ستا د ننګو غرونو نه زار شم
ستا د صحرا ستا ځنګلونو نه زار شم
ستا د وګړو سپينو زړونو زار شم
ستا د زلمو د همتونو نه زار شم
لا تا لوګے له تا قربان وطنه
په ما د هر وطن نه ګران وطنه

زه ستا په خاوره زيږيدلے يمه
زه ستا په خاوره لوبيدلے يمه
ستا په نوم هر چا پيژندلے يمه
تا په قدم کښتلے يمه
مونږ يُو په تا باندې ودان وطنه
سمسور دې ستا وي ګلستان وطنه

زه ستا صحرا په لندن نه ورکوم
خيبر په ملک د دښمن نه ورکوم
زه ستا کوټه په ګلشن نه ورکوم
پېښې د بل په وطن نه ورکوم
رسوم بېرغ دې تر اسمان وطنه
اوچت دې ستا وي مدام شان وطنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا هره لاره امریکه دد ماته
د جنت لارخو ستا کوڅه ده ماته
چې هره ژبه دې خوږه ده ماته
د رقیب څکه سترګه سره ده ماته

سنده او بلوچ، پنجاب افغان وطنه
ماته دې ټول رونه یو شان وطنه

که ستا تور غر دے که بولان دے
که تاتره که کوهستان دے
که ستا شند ورکه ستا بولان دے
ماته خو ټول یو پاکستان دے

ستا لوګے به کړم چیل ځان و طنه
اے د اقبال خوشحال رحمان و طنه

ستا په نوم هر ځاے کښې مسرور یم
تا ته معلوم یمه مادتوړیم
په تا باندې سر منصور یم
ټوله نړۍ کښې مشهور یم
زما خو دغه دے ارمان و طنه
چې دې ښایسته کړمه ځوانان وطنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپله باندې خپل کور کړلو وران زما زړګي
پیدا نهٔ کړو د یار زړهٔ کښې مکان زما زړګي

ملګرو په خوبونو، په خیالونو کښې مُدام
ښکل کړې د جهان وره خوبان زما زړګي
دیدن له دې اشنا په ویرانو ګوره دېره دے
پرېښودے ستا د یاره ګلستان زما زړګي
زما دا پښتنه ساده باده مینه ملګرو
لاهو کړه په ښائستو د ټول جهان زما زړګي
زما اشنا نادان دے په یوه باندې پوهېږي
بېلے دے پتمے په خپل ویران زما زړګي

زما منصور زړګي د دار رسۍ په شونډو ښکل کړې
بېلات کړے د عشق په کوم میدان زما زړګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فطرت د ښائستونو طلبګار یم
د سپرلي او سرو ګلونو طلبګار یم

زهٔ په ځوانه ځوانۍ دل کوم د وخت ژړنی
څو زهٔ بیا هم د جامونو طلبګار یم
تورو زلفو دې ژوندون ماله ایرې کړو
ستا د شونډو د سرونو طلبګار یم
د رقیب سره جنګونه مې یادیږي
ستا د مینې د جنګونو طلبګار یم
ما او ستا چې پکښې یو وُ کهٔ هغه وي
زهٔ په ویښه د خوبونو طلبګار یم
چې مدام ما سره ستا په ځائې یو ځاې وي
ستا د یاد ستا د غمونو طلبګار یم

پروا مهٔ کوه رقیبه یو ځل نهٔ دے
زهٔ منصور یم د دارونو طلبګار یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د وحشت په تورو شپو کښې سحر او نه لیدو
یار مې د کلي په کوڅو کښې سحر او نه لیدو!

دیار د هجر په ډیوه باندې مې ځان او سپړه
لکه پتنګ مې سرو لمبو کښې سحر او نه لیدو.
ما ته د ژوند د ښکلا څه پته ده څه ته وايي
ما زندان تورو تیرو کښې سحر او نه لیدو
په سپین رخسار باندې يې زلفې لکه شپې خورې دي
نن مې د یار په اننګو کښې سحر او نه لیدو
بیګاه مې خوب کښې د رقیب ګریوان تار تار کړو ګله
چا په ریښو ریښو جامو کښې سحر او نه لیدو
موږ ه تېر کړې د ژوندون په هر ډګر او خوړې
موږ ه په دې سپیرو تندو کښې سحر او نه لیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وصیّت منصور

ﭼﻲ کله مړ شمه زهٔ
نو ما په خاورو ښخ کړئ
کهٔ سوزوئ مې کله
مهرباني اوکړئ دا
زما د تن نه زما زړګے راوباسئ
کهٔ بیا سوزېږمه زهٔ
خېر دے پروا نشته دے
راوباسئ زړهٔ مې څکه
زما خوږو ملګرو
چرته هغه اونهٔ سوي
ﭼﻲ مې په زړهٔ کښې اوسي

دا وصیت دے زما
دا وصیت دے زما

یادګېرنه: دا پوره آزاد نظم ما د اردو ژبې دیو نظم په خیال کښې لیکلے دے۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سندره

---

خلق ورپسې تلي په اوښ به ئې سوره راوړي
روس به مېلمنه راوړي
مونږ کور سنبال کړے دے

روس به مېلمنه راوړي زۀ ډېر خوشحالېږمه
زۀ د خوشحالئ نه په جامو کښې ځښېږمه
مخکښې به جنجیان وي اوښ به روستو کچاوه راوړي
روس به مېلمنه راوړي
مونږ کور سمبال کړے دے

کله مېلمنه چې زمونږ کښېنوي پالنګ کښې
ناستې سهیلۍ به ورسره وي ښنګ په ښنګ کښې
څوک به ورله توره چائے، څوک به ورله شنه راوړي
روس به مېلمنه راوړي
مونږ کور سمبال کړے دے

وائي د توپچي منصور ناوې خفه کېږمه
روس به ډېر عالم راشي غلې شه ژړېږمه
تاله به کوسۍ او مونږ ماله به سهره راوړي
روس به مېلمنه راوړي
مونږ کور سمبال کړے دے

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجمل منصور

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**